# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| Ideological | مسائل ایدئولوژیک |
|---|---|

ترتیب کونکی : الحاج داکتر امین الدین سعیدی – سعید افغانی

٠٢ اپریل ٢٠٢٠

## دناروغی پټول غټ جرم دی :

### اوپه هر چا باندی د خپل ځان علاج واجب دی

مهمه لارښونه دمسلمانانو لپاره دا ده چې په هر چا د خپل ځان علاج واجب دی ، او په ټولنه او حکومت واجب دي چې د داسې ساري ناروغیو د علاج په خاطر خپل ټول امکانات په کار واچوي ، او هغه څوک چې د خپل ځان علاج نه کوي د ډیرو دلایلو له مخې ګناه ګار دی، د تفصیل لپاره دغه مشهور دینی او فقهی کتاب : «فقه القضایات الطبیة المعاصرة» ته مراجعه وکړه.

ګرانو لوستونکو !

د ناروغی اعلان، کله چې څوک پوهه شي چې په وباء اخته شوی، او یا دا چې د وباء په محیط کې یی شپې کړي خو د ځینی ضرورتونو په خاطر د وبایی محیط څخه را وتلی باید مسؤولین په خپل حال خبر کړي، که مسؤولین خبر نه کړي نو د دوه جرمونو مرتکب دی : یو جرم د ناروغی د پټولو، او بل جرم د ناروغي د انتقال لامل کیدلو او د ناروغی د خپرولو، هر څوک چې په دې ناروغی اخته کیږي دا یې د خپروني په ګناه کې برخه لري، حدیث شریف کې راځي:

«الْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ». یعني حقیقي مسلمان هغه دی چې نورو مسلمانانو لپاره هغه څه خوښ کړي چې ځان لپاره یی خوښوي او څه چې د ځان لپاره بد بولي د نورو مسلمانانو لپاره هم بد وبولي.